THE AFGHAN JOURNAL

# افغان ژورنال

ګڼه ۸
اګست ۲۰۲۳

## مونږ په سینټ لوئس کې افغان کډوالو ته ښه راغلاست وایو - جېري شلیکتر

افغان کډوال له سترو ننګونو او خطرونو سره مخ دي چې د خپل ژوند او کورنیو د ژغورلو لپاره یې امریکا ته د ننوتو پرېکړه کړې ده

## د افغان ژورنال مجلې مدیر

دعامه اړیکو او رسنیو کارپوه حمدالله همدرد سره اشنا شئ. ښاغلی همدرد د افغانستان په رسنیز چاپېریال کې نه هېرېدونکې کارنامې لري

## د کلتور او هنر بډایه خزانه

د سینټ لوئس د هنر میوزیم په متحده ایالاتو کې یوه معتبره هنري اداره ده چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه راز راز هنري ټولګې لري

## دافغانستان دملي موزیم نه ماتېدونکی روح

د افغانستان ملي موزیم چې په ۱۹۱۹ میلادي کال کې د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال تاسیس شو، د لرغوني اثارو یوه بډایه ټولګه ده



# د افغان سینما ستوري د ټولنیزو مسایلو او په سینما کې د ښځو د پیاوړتیا لپاره کار کوي

لینا علم یوه له هغو ۱۰۰ ښځو څخه ده چې بي بي سي د ۲۰۲۱ کال په لیست کې شامله کړې ده. د نوموړې کارنامې په ټوله نړۍ کې لیدونکو ته الهام ورکوي



























## په زرګونو کیسې په یوه انځور کې

# لیک لړ


پاڼه ۰۴
د افغان ژورنال مجلې مدیر

پاڼه ۰۵
موږ په سینټ لوئس کې افغان کډوالو ته ښه راغلاست وایو – جېري شلیکټر

پاڼه ۰۶
د افغاني پتنګ جنګي هنر او هیجان

پاڼه ۰۷
د افغان سینما ستوري د ټولنیزو مسایلو او په سینما کې د ښځو د پیاوړتیا لپاره کار کوي

پاڼه ۰۸
د افغانستان په زړه پورې دودیزه نڅا

پاڼه ۰۹
د کلتور او هنر بډایه خزانه

پاڼه ۱۰
د افغانستان د ملي موزیم نه ماتېدونکی روح

پاڼه ۱۱
په سینټ لوئس کې د افغانستان د خوړو خوند

پاڼه ۱۲
د خوړو د لټون سازمان سینټ لوئس لپاره د خوړو خوندي سرچینې برابروي

پاڼه ۱۳
په رویال کباب رسټورانټ کې د افغاني خواړو څخه خوند واخلئ

پاڼه ۱۴
د افغاني ټولنې د متشبثینو د مرستې سیالۍ دریم پړاو





## د افغان ټولنیز مرکز

د افغان ټولنې مرکز په سینټ لوئس کې یو متحرک او ټول شموله ځای دی چې د افغانانو لپاره د را ټولیدو ځای په توګه کار کوي او دا ټولنه په دې ښارکې افغانان د نورو اشخاصو او ډلو سره نښلوي. د دې مرکز هدف د یو داسې مرکز جوړول دي چې په متحده ایالاتو کې د افغان ټولنې اړتیاوې، هیلې او کلتوري میراث منعکس کړي. همدا رنګه د دغه ټولنیز مرکز موخه د افغانانو لپاره د هوسا چاپیریال رامنځته کول، ټولنیز ادغام، پیاوړتیا او متقابل تفاهم دی. د افغان ټولنې مرکز هڅه کوي چې یو متحرک او ټول شموله چاپیریال رامینځته کړي چې د افغان کلتور درناوی وکړي، ټولنیز یووالي ته وده ورکړي، او افرادو او کورنۍ ځواکمني کړي ترڅو دوی د سینټ لویس په ټولنه کې وده وکړي.

# د افغان ژورنال مجلې مدیر



د عامه اړیکو او رسنیو کارپوه حمدالله همدرد سره وپیژنئ. ښاغلي همدرد د افغانستان په رسنیز چاپېریال کې نه هېرېدونکې کارنامې لري. د ۱۲ کلونو کاري تجربې سره، د ښاغلي همدرد سفر په مشعل پوهنتون کې پیل شو، چیرته چې هغه د عامه اړیکو او ژورنالیزم په برخه کې خپلې زده کړې پیل کړې

د ښاغلي همدرد استعداد د هغه په لیکنه، عکاسي، ویډیوګرافي او ټولنیزو رسنیو کې د تخصص په برخه کې دی. هغه د خپل مسلکي ژوند په اوږدو کې د فلمونو او سریالونو د دوبلې څخه رانیولې تر بازارموندنې، د رسنیو همغږي کوونکی، د اړیکو مسوول، د پراختیا مدیر او په افغانستان کې د چاپي میډیا د مالک په توګه بېلابېلې مهمې دندې ترسره کړې دي

هغه د ویلټ هنګر هیلفه، د ډنمارک د کډوالو شورا، د سکیتستان نړیوال موسسه، هیله موسسه، او په افغانستان کې د کرنې پراختیايي صندوق لپاره د رسنیو او اړیکو د استازي په توګه دندې ترسره کړې. د دې دندو په ترځ کې همدرد یادو ادارو د عامه اړیکو هڅې په اغېزمنه توګه اداره کړې او د دې ادارو سره یې مرسته کړې چې د سازمانونو لیدلوری عام او خاصو ته واضحه کړي. هغه د رسنیو، دولتي بنسټونو او تمویلوونکو ترمنځ خورا مهم رول لوبولی تر څو یاد بنسټونه وکولای شي په افغانستان کې د پام وړ رول ولوبوي او خپل مثبت اغیز زیات کړي

په افغانستان کې د چاپي میډیا د مدیر او بنسټ ایښودونکي په توګه، همدرد له نړیوالو رسنیو لکه بي بي سي او رویټرز، ۲۸ کیلومتره میډیا او ګرېن میډیل رسنیو سره همکاري کړې، تر څو دغه رسنۍ وکولای شي د جنګ ځپلي هیواد څخه مثبتې کیسې ثبت کړي. همدارنګه هغه د تلویزیون اعلانونه، مستند فلمونه او ویډیو کلیپونه هم تولید کړي، چې د نړیوالو لیدونکو لپاره اړینې کیسې او د پام وړ موضوعات و. د رسنیو له تولید څخه بهر، د ټولنیزو لاملونو لپاره همدرد همدارنګه خپلې هلې ځلې کړې. هغه ځوانانو او ماشومانو ته د خپلې رسنۍ له خوا د رسنیو مهارتونه ور زده کول. همدارنګه، هغه له هیله سازمان چې د ده کورنۍ د غړو پورې اړونده ده همکاري کوله تر څو ځوانان د ملګرو ملتونو د شبیه سازۍ، نجونې په سوداګرۍ کې، انګلیسي ژبې او فلم جوړونې په برخه کې زده کړې وکړي

د همدرد رسنیز کارونه په نړیواله کچه پیژندل شوي او د هغه د انځورګرۍ او هنر لپاره د یونیسکو پاریس او یونیسکو بنکاک څخه ستاینلیکونه ترلاسه کړي او د خپل کار لپاره یې محلي جایزې هم ترلاسه کړې دي. د هغه یو لنډ فلم "په ماشومانو باندې د بې وزلۍ اغیز" په نیویارک کې د نامتو فلم فستیوال کې ستاینه شوې "Plural+"

ښاغلی همدرد اوس د افغان ژورنال د مدیر په توګه دنده ترسره کوي، همدرد ژمن دی چې په سینټ لویس کې د افغان او غیر افغان ټولنې لپاره نه هیریدونکې مثبتې کیسې راوړي. همدرد په انګلیسي، پښتو، دري او اردو ژبو روانې خبرې کوي او د ده د ژبې فصاحت له افغان ژورنال سره مرسته کوي چې بېلابېل لوستونکي سره ونښلوي او کلتوري واټنونه له منځه یوسي. همدرد د افغان ژورنال د خدمت سربیره، د بصري کیسو په ځواک باور لري، نو ده په سینټ لویس کې خپل لومړنی پروډکشن تاسیس کړی. همدرد په دې باور دی چې رسنیو ته د ده ژمنتیا او د مثبتو کیسه بیانول کولی شي د یوې لویې ټولنې راتلونکې ته وده ورکړي

د افغان ژورنال او افغان ټولنیز مرکز اړوند مسلو په اړه د پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ موږ سره په لاندې شمیره او بریښنالیک اړیکه ونیسئ. موږ ستاسو لیوالتیا ته ارزښت ورکوو او د هرې پوښتنې، شراکت یا همکارۍ په اړه بحث کولو لپاره تاسو سره تماس نیولو ته سترګې په لار یو. ستاسو ګډون زموږ د ماموریت لپاره اړین دی او موږ د یوې فعالې افغانې ټولنې په وده کې ستاسو د مرستې ستاینه کوو

hhamdard@afghancenter.org
314-827-1821

# موږ په سېنټ لوئس کې افغان کډوالو ته ښه راغلاست وایو - جېري شلیکټر



جېري شلیکټر، د آرچ ګرانټس بنسټ اېښودونکی
د افغان د ملاتړ پروګرام جوړونکی

افغان کډوال له سترو ننګونو او خطرونو سره مخ دي چې د خپل ژوند او کورنیو د ژغورلو لپاره یې امریکا ته د ننوتو پرېکړه کړې ده. موږ دلته په سېنټ لوئس کې ټولو افغان مهاجرینو ته چې دمخه په سېنټ لویس کې دي او نورو ته چې غواړي راشي ښه راغلاست وایو

دا مسله یوازې زموږ په خبرو پورې محدوده نه ده، بلکې په سلګونو رضاکاران او له ۸۰ څخه ډېر سازمانونه ستاسو او ستاسو د کورنۍ اړتیاو سره د مرستې لپاره په شدت کار کوي. سربېره پردې، هغه افغانان چې د کلونو لپاره یې دلته خپل ژوند جوړ کړی دی د نویو راغلو افغانانو او کورنیو سره د مرستې په برخه کې ژور ښکېل دي. په امریکا کې هېڅ ښار دا ډول پروګرامونه او ملاتړ نه لري، خو د سېنټ لویس ښار افغانانو ته دا وړاندیز کوي او پدې کې ډېرې مرستې شاملې دي چې تاسو او ستاسو کورنۍ ته به دا وړتیا درکړي چې په سېنټ لوئس کې خپل ژوند جوړ کړئ. موږ دې پروګرام ته د افغانستان د ملاتړ پروګرام وایو او دا پروګرام د سېنټ لویس د نړیوال انسټیټیوټ لخوا اداره کیږي او لاندې پروګرامونه پکې شامل دي

د هستوګنې مرستې چې افغان مهاجرینو ته د ارزانه کور موندلو توان ورکوي، د افغان ټولنېز مرکز، په جنوبي ګرانډ بولیوارډ کې نوی تأسیس شوی او وده کوي، د افغانستان د سوداګرۍ خونه د افغان متشبثینو سره مرسته کوي چې په او د افغانانو لپاره iPads ،سېنټ لویس کې سوداګرې پیل کړي ۲ کلن تلیفوني پلان، د کمپیوټر د پروګرامونو ۱۲ اوونیز کورسونه، په امریکا کې د نویو راغلو افغانانو لپاره ۱۵۰۰۰ ډالره مرسته چې د ازادو سیالیو له لارې ګټل کیږي، ترڅو خپل کاروبار پیل پرې پیل کړئ، د افغان ماشومانو لپاره د فوټبال پروګرامونه او افغان همغږي کوونکې، مژده صدیقي، له افغان کډوالو سره کار او په دې پروګرام کې ورسره مرسته کوي. همدارنګه دغه میاشتنۍ، افغان ژورنال د سېنټ لوئس او افغانستان په اړه مهم معلومات وړاندې کوي

موږ دېته په تمه نه وو چې دا پروګرام چمتو شي او پراختیا یې کلونه وخت ونیسي. دا د دې د پلې کولو او په بشپړه توګه د تمویل لپاره غوره وخت وو او افغان کډوال به د خپلو اړتیاو لپاره له دې پروګرام څخه ګټه پورته کړي او سېنټ لویس به خپل کور جوړ کړي

د افغانستان د ملاتړ پروګرام د سېنټ لویس نړیوال انسټیټیوټ لخوا اداره کیږي، کوم چې په محلي ټولنه کې د افغان کډوالو د ادغام په اسانتیاو کې مهم رول لوبوي. دا موسسه د کور پیدا کولو، د کار روزنې، د انګلیسي ژبې ټولګې، سوداګریز پوروونه چې پورته ذکر شوي، او د کلتوري تمایل ټولګي او معلوماتو د مهمو پروګرامونو څخه دي چې دا مرکز یې وړاندې کوي او په پراخه کچه نور حیاتي خدمتونه وړاندې کوي. یو له ټولو بریالي کارونو څخه د اختر جشن نمانځل و، چې کډوالو وکولای شي دلته د کور احساس وکړي او په دې برخه کې یاد نهاد مهم رول لوبولی دی. دا ټول کارونه دا وظلبا نه او د کډوالو لپاره ترسره کیږي ترڅو کډوالو ته ډاډ ورکړي چې افغانان یو قوي بنسټ لري او د همدې احساس له لارې وکولای شي په سېنټ لوئس کې خپل ژوند بیا جوړ کړي

هغه څه چې سېنټ لوئس د نورو ښارونو څخه جلا کوي د اوږدې مودې پایښت او د کډوالو پر ځای بسیا کیدو تمرکز دی. د دې ښار نوښت دا دی چې ټول افغان کډوال د ځایی کارګمارونکې سره نښلوي ځکه چې ځایی کارګمارونکې تل د خپل کاري ځواک تنوع په لټه کې دي او کډوال د کار په لټه کې دي. موزایک پروژه یو بل مدافع سازمان، دی، چې د افغان کډوالو لپاره د ښه معاش د کارونو په موندلو کې مرسته کوي. موږ په سېنټ لویس کې د مرستې په اړتیا پوهیږو، مګر موږ په دې هم پوهیږو چې موږ د یوې ټولنې په توګه هم افغان کډوالو ته اړتیا لرو. د نورو ښارونو نه ښېل، موږ احساس کوو چې موږ د افغان کډوالو خوځښت، تنوع، استعداد او مهارتونو ته اړتیا لرو. تاسو زموږ ښار ته ډېر څه اضافه کوئ، زموږ چاپېریال پیاوړې کوئ او زموږ اقتصاد جوړوئ

سېنټ لوئس هم د روښانه راتلونکې لپاره د افغان مهاجرینو په پیاوړتیا کې د زده کړې اهمیت پیژني. د سېنټ لویس عامه ښوونځي د افغان ماشومانو لپاره ځانګړي پروګرامونه وړاندې کوي ترڅو انګلیسي زده کړې او د زده کړې په سیسټم کې افغان زده کوونکو ته ارزښت ورکړي. دا د متحده ایالاتو حکومت هم په رسمیت پیژني خو سېنټ لویس د بل هر ښار په پرتله غوره دی ځکه چې افغان کډوالو ته په ورین تندې او خلاص لاس د هرکلي لپاره مدافع برنامې لري او له دې امله په سېنټ لویس کې د یوې پیاوړې او خوځنده افغانې ټولنې د جوړولو لپاره اړین ګامونه اخلي

موږ غواړو چې افغان ټولنه وده وکړي او تاسو ټولو ته اجازه درکړي چې ستاسو ملګري او خپلوان په متحده ایالاتو او افغانستان کې پوه شي چې سېنټ لویس دلته ستاسو لپاره دی




# دافغاني پتنګ جنګي هنر او هیجان

د کابل په ځېر په یوه لرغوني ښار کې  په کوڅو کوڅو کې د پتنګونو جګړه روانه وي، چې اسمان یې په رنګارنګو پتنګونو سینګار کړی وي، نه د او سپنیزو الوتکو په جنګ. افغانانو د پتنګ الوزوني لوبه چې د "کاغذ پران جنګی" په نامه هم یادېږي، په یوه هنر بدله کړې او له پتنګ سره جګړه یې یو له مهمو اړخونو څخه ده. پتنګ الوزونه په ۱۹۹۰ لسیزه کې د طالبانو د رژیم پر مهال بنده شوې وه، خو په ۲۰۲۱ کال کې چې کابل د طالبانو لاس ولوېد پتنګ الوزونه بېرته په بریالتوب سره راستنه شوې ده. اوس د کابل اسمان پرته له کومه درېغه یو ځل بیا له سلګونو رنګینو پتنګونو څخه ډک شوی دی

په افغانستان کې کاغذ پران بازي د دوو کسانو لپاره په زړه پورې لوبه ده. "څرخ نیونکی" د لرګیو څخه جوړ څرخ لري چې شا و خوا یې تار پرې تاو شوی وي، پداسې حال کې چې "پتنګ باز" په هوا کې د پتنګ حرکت د کنټرول مسؤلیت لري. په افغانستان کې هر چیرې چې د پتنګ په هوا کې وي هلته به هرو مرو د کاغذ پران جګړه هم وي. د دې جګړې په جریان کې ، دواړه ه پتنګ بازان خپل پتنګ نېژدې یو بل ته الوزوي، په دې موخه چې د سیال پتنګ د تار په وسیله آزاد (پرې) کړي

د کاغذ پران سره د جګړې کمال د تار په کیفیت او چمتو کولو پورې اړه لري. کاغذ پران بازان شیشې په زرنده کې ترمېچن او باسي او بیا یې د نورو کیمیاوي موادو سره ګډوي او بیا دغه تیار شوي مواد په تار مښي او د تار وچیدو انتظار کوي. په دې توګه د کاغذ پران تار جوړیږي او د جګړې لپاره چمتو کیږي. کاغذ پران بازان د کاغذ پران د الوزولو په موکه په خپلو ګوتو رابرتیپ تاووي ترڅو د ګوتو له پرېکولو څخه ځان خوندي وساتي. مسلکي کاغذ پران بازان د خپلو پتنګونو، تارونو او څرخونو جوړولو څخه خوند اخلي او پرې ویاړي

کله چې پتنګ خوشی (ازاد) شي، دا د ښار په آسمان کې د رنګارنګ مرغیو په څیر تاویږي. دې آزاد شویو پتنګانو ته "ازادي" ویل کیږي او د ګاونډیو ماشومانو لخوا ښکار او الوزول کیږي. شور بازار، د کابل تر ټولو پخوانی کوڅه ده او د پتنګ د پلورنځیو خزانه بلل کیږي، د دې پدیدې مینه وال کولای شي کاغذ پرآن په مختلفو اندازو کې  دلته ومومي، د پتنګ اندازې په افغانستان کې د "پارچې" په نوم پیژندل کیږي او دا د هغو ټوټو شمیر دی چې کاغذ پران ترې جوړیږي. . اقتصاد ته په پام کې نیولو سره د کاغذ پران بیه له ۲ څخه تر ۱۰۰۰۰ افغانیو پورې ده، چې دا کار هر سړي ته د لاسرسي لاره برابروي

په افغانستان کې د ژمي موسم پتنګ الوزولو ته ښه زمینه برابروي لځکه هم تند بادونه وي او هم ښوونځي تړلي وي. سربېره په دې چې پتنګ الوزونه له خونده ډکه ساتیري ده خو دا لوبه ډېره خطرناکه هم کیدی شي. ډیر کسان د پتنګ د خوشي کیدو وروسته د هغه د تعقیب کولو پر مهال یا د پتنګ الوزوني پر مهال خپل تمرکز له لاسه ورکوي او له بامونو غورځیږي. نن سبا، افغان پتنګ بازان د مرانجان په غونډی (نادر خان غونډی) د دې ساتیرې په مهال موندلی شئ. دا سیمه د بډایه تاریخ سره د مختلفو تفریحی فعالیتونو لکه د آس ځغلوني او موټرسایکل ځغلولو لپاره هم کارول کیږي. د کابل په لوړ اسمان کې به د کاغذ پراني رنګارنګه نڅا تل روانه وي، چې د هر عمر لرونکي افغان لپاره د ازادی او خوښی روحیه ورکوي. د کابل د لرغوني ښار په لوړ اسمان کې به دا زړه راښکونکي تفریح او کاغذ پران جنګی به د تل لپاره خپل قد تر اسمانه لوړوي



# د افغان سینما ستورې د ټولنیزو مسایلو او په سینما کې د ښځو د پیاوړتیا لپاره کار کوي

لینا علم د فلم، ټلویزیون او تیاتر مشهوره اداکاره ده او په هغو پروژو کې د کار لپاره پېژندل شوې چې مهم ټولنیز موضوعات پکې خوندي دي لکه د ماشومانو ودونه، د جنسیت نابرابري، د ښځو حقونه او ټولنیزې شخړې. یاده اداکاره په افغانستان کې زېږېدلې او په ۱۹۹۱ کال کې د کورنۍ جګړې له امله له خپلې کورنۍ سره امریکا ته کډواله شوې ده. مېرمن علم په ۱۹۹۸ کال کې سینما ته مخه کړه او له هغه وخت راهیسې په دې تفریحي صنعت کې د پام وړ فعالیت او نفوذ لري

هغې د کابورا او طلوع تلویزون له خوا د "شیرین" په ټلویزیوني سریال کې په کارکولو سره ډېر شهرت ترلاسه کړ. دغه ننداره چې د غفار ازاد په لارښوونه جوړه شوې وه، هغې ته د "د شیرین افغانستان" لقب ورکړ. دا سریال په ۲۰۱٦ کال کې د سیول په نړیوال فلم فستیوال کې د غوره لنډ سریال په کټګورۍ کې هم نوماند شوې وه، چې یاد سریال د مشهور سریال نایټ منیجر، مسټر روبوټ او دویچلند ۸۳ سره سیالي وکړه. د یادونې وړ ده، چې لینا علم هم په دغه فیسټیوال کې د غوره مخکښې اداکارې لپاره نوماند شوې وه

هغې د خپل مسلکي ژوند په اوږدو کې په څو اغېزمنو فلمونو کې کار کړی دی چې پکې "کابلي هلک"، "تور پتنګ"، "لوري"، "ولسمشر ته یو لیک" او "حسن" یې دلته څو نمونې دي. هغه د پېچلو او زړه راښکونکو کرکټرونو د انځورولو لپاره خورا مشهوره او د درناوي وړ ده. علم د خپلو فعالیتونو سربېره، په بېلابېلو لنډو فلمونو کې د ځوانو فلم جوړونکو سره د مرستې له لارې د افغان فلم په وده کې هم ونډه اخیستې ده. هغې د معتبرو فلمي فستیوالونو د داورۍ کې هم برخه اخیستې ده، لکه د آسټرالیا د اډیلېډ فلم فستیوال، د ایمیجین انډیا نړیوال فلم فستیوال او د افغانستان د بشري حقونو فلم فستیوال

لینا علم د خپلو هنري لاستهراوړنو ترڅنګ د بشري حقونو او ټولنیز عدالت مدافعه ده. په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) لپاره د سولې د سفیرې په توګه وټاکل شوه. د لینا پام بشري حقونو فعالیتونو ته هغه وخت واوښت چې هغې د یوې ۲۷ کلنې ځوانې (فرخندې) د وژنې په بیا جوړونه کې برخه واخیسته. فرخنده هغه ځوانه ښځه وه چې د قرآن کریم په سوځولو تورنه شوې وه او وروسته په ۲۰۱۵ کال کې د عامو خلکو له خوا په ډبولو یې خپل ژوند له لاسه ورکړ او د خلکو له خوا وسوځول شوه. علم په دې نندارتون کې فرخنده انځور کړې، چې موخه یې په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د اغیز په اړه د عامه پوهاوي لوړول و

لینا علم په سینما او تلویزیون کې د کارکولو ترڅنګ په تیاتر کې د رولونو په لوبولو سره د خپل کار تنوع لا زیاته کړې. په آلمان کې، د رابرټ شوسټر لخوا لارښود شوی پارچه، هغې د هینریک ابسین په پییر جینټ کې د سولویګ رول لوبولی

په هنرونو کې د لینا علم ښکیلتیا او ټولنیزو لاملونو ته د هغې ژمنتیا د هغې پېژندنه او درناوی د خلکو په مینځ کې لا زیاتوي، یو له بېلګو دا چې بي بي سي نوموړې د ۲۰۲۱ کال په هغه لست کې شامله کړې چې پکې د نړۍ ۱۰۰ اغیزمنې ښځې شاملې دي. په ورته وخت کې، هغه به په ۲۰۲۳ کال کې د سویډن په سټاکهولم ښار کې د سیما نړیوال فلم فستیوال داورۍ په غاړه لري. د نوموړې کارونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د لیدونکې هڅولې او اغیزمنوي یې، چې د آکار د افغان سینما وړتیا څرګندونه کوي

لینا د افغان ژورنال په اړه داسې وایي: افغان ژورنال خپلو لوستونکو ته د افغانستان متمدنه ټولنه ښيي او متمدنه ټولنه د سولې، ازادۍ او ښوونې او روزنې بنسټ جوړوي

# د افغانستان په زړه پورې دودیزه نڅا


Photo Credit: City Dance Studio

اتڼ، د افغانستان ملي نڅا، په افغانستان او د پاکستان په شمال لویدیځ د پښتنو قبایلي سیمو څخه ریښې اخلي. دا له شوره ډکه نڅا اکثرا په ودونو، کوژدو، غیر رسمي غونډو او حتی د جګړې په وخت کې ترسره کیږي. په تاریخي توګه، اتڼ د پښتنو جنګیالیو د مورال لوړولو لپاره کارول کیده چې د دوی مورال د انګریزانو د استعمار په مقابل کې لوړ او مبارزې ته چمتو شي. نن ورځ دا د ملي غرور سمبول ګرځیدلی او نه یوازې د پښتنو بلکې د افغانستان د نورو قومونو لخوا هم منل شوی او اجرا کیږي

د اتڼ د ترسره کولو طریقه: اتڼ معمولا په یوه دایره کې د ډول او سورنې سره اجرا کیږي. نڅاګران په ورو ګامونو سره پیل کوي، په تدریجي ډول خپل سرعت زیاتوي، ځینې وختونه پرته له وقفې په ګړیو ګړیو دوام پیدا کوي. اتڼچیان د یوې دایرې دننه لاسونو پرقوې او پدې کې د سر ورمیږ او د بدن د نورو غړو خوځول هم شامل دي لکه هوا ته د لاسونو غځول او د پښو اوږدول. دا د افغاني کلتور او دود یوه ژوندۍ بېلګه بلل کیږي

د اتڼ سازونه: اصلي آله چې اتڼ ورته کیږي هغه ډول دی. ډول دوه سرې بیرل یا ډرم دی. سورنۍ یا سورنای، د باد هغه میل دی چې سورنا یچې پکې پوکي تر څو غږ و باسي او د ساز غږ نور هم خوندور کړي

جامې: اتڼچیان د اتڼ په جریان کې کلتوري او دودیزې جامې اغوندي. نارینه کولۍ شي لونګۍ یا پګړۍ په سر کړي چې د دوی د قبیلوي ریښو سمبول وي، پداسې حال کې چې میرمنې خپل ځانونه په رنګارنګه جامو سینګاروي چې معمولا دا جامې رڼا منعکس کوي او د دوی خوځښت کې چمک زیاتوي


Photo Credit: danceafghanistan.com

د اتڼ ډولونه: د اتڼ ډول او تخنیک د سیمې او قبیلې پورې اړه لري. ځینې مشهور تغیرات یې دا دي

کوچی/کوچیانی: هغه اتڼ چې ډول یې پیچلی وي او د اتڼچیانو دستمالونه په اینو ګنډل شوي وي او معمولا اتڼچیان پیچلي حرکات لري

لوګری: دا د لوګر له ولایت څخه سرچینه اخلي چې د اتڼچیانو د رنګارنګ څرخېدلو له امله شهرت لري

پکتیاوال/خوستي: اتڼچیان د سر د حرکت او اوږد ویښتانو په اچولو سره L-۵ قدمو څخه یو ښکلی اتڼ جوړوي

شینواری: دا اتڼ د ننګرهار ولایت د شینوارو قوم پورې تړاو لري

وردګ/وردکي: اتڼچیان د وجود اندامونه سره پیچي او د زیاتو دستمالو له ښورولو څخه اتڼچیان غواړي اتڼ ښایسته ښکاره کړي او څرخ و هل یې بې جوړې ښکاره شي

ختک: دا اتڼ په ختک قوم پورې اړوند دی خو بیلابیل پښتنانه قومونه یې کوي، معمولا ختک دا اتڼ په دوامداره توګه د ډول وهلو او د تورو په ښورولو سره کوي

کابلي: د عصري موسیقۍ سره یو بدل شوی اتڼ دی چې ډیری وختونه د کابلیانو او غیر پښتنو ډلو لخوا ترسره کیږي

اتڼ د وخت په تیریدو سره نه ویجاړیدونکې پدیده ده چې د لیدونکو جذبولو ته دوام ورکوي او د افغانستان د بډایه کلتوري میراث استازیتوب کوي. په دې نڅا کې د افغانانو د یووالي جشن او نه ماتېدونکې روح ښودل شوی دی. اتڼ نه یوازې نڅا بلکه د یو کلتور او قومي ملت نښه ده. دا یوه کلتوري خزانه ده چې د وخت په هر رنګه شرایطو کې په خپل ځای ولاړه دی. لکه څنګه چې دا د نسلونو په اوږدو کې نړۍ ورک شوی، اتڼ به د تل لپاره د افغانانو د هویت، مقاومت او جشن نښه وي



# د کلتور او هنر بډایه خزانه

د سینټ لوئس د هنر میوزیم په متحده ایالاتو کې یوه معتبره هنري موسسه ده چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د نقاشیو، مجسمو، کلتوري آثارو او لرغونو آثارو بېساري ټولګه لري. دا موزیم د میزوري ایالت د سینټ لوئس ښار په **فورسټ پارک** کې موقعیت لري، دا دري پوړیز موزیم په کال کې نیم میلیون لیدونکي راجذبوي او دا دې میوزیم داخله وړیا ده

د موزیم د دایمي ټولګې سربیره، یاد میوزیم مختلف لنډمهاله **ننداړتونونه** وړاندې کوي، پشمول د موجوده اثارو، د معاصر هنرمندانو اثار چې د نوي میډیا او د کاغذ په مخ دي دا موزیم یې ننداري ته ږدي. یاد موزیم لمړی په ۱۸۷۹ کال کې د سینټ لویس د **ښکلو هنرونو د ښوونځي** او میوزیم په توګه تاسیس شو، او تاریخ یې په سینټ لویس کې د **واشنګټن پوهنتون** د یوې خپلواکې ادارې په توګه پیل شوی دی، چې مشري یې هالسي آیوز کوله

دا موزیم په ۱۹۰۴ د **لوزیانا د ننداړتون د پېر** څخه وروسته، د ښار په مرکز کې د ښکلو هنرونو ماڼۍ ته لیږدول شوی و، چې دا ننداړتون یو له همیشني جوړښتونو څخه و خو د هنر د مالیاتو په اړه د قانوني شخړې له امله، په ۱۹۰۹ کال کې له پوهنتون څخه موزیم په رسمي ډول جلا شو چې په پایله کې یې دري جلا مدني بنسټونه رامینځته شول چې د ښار هنري موزیم (سینټ لویس آرټ میوزیم) د میلډرډ لین کیمپر هنري موزیم او د سینټ لوئس د ښکلو هنرونو ښوونځي و


د وخت په تیریدو سره، موزیم وده وکړه او په ۱۹۵۰ لسیزه کې د فلم ننداري، کنسرتونو او لیکچرونو لپاره یو تالار اضافه کړی شو. په ۱۹۷۱ کال کې، د موزیم د مالي راتلونکي د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، د مالیې ورکولو نهاد رامینځته شو چې د سینټ لویس کاونټي ته د موزیم د ملاتړ اساس پراخ کړی شي، او وروسته په ۱۹۷۲ کال کې یاد موزیم ته د سینټ لویس آرټ میوزیم نوم ورکړل شو

په ۲۰۰۵ کال کې، د مشهور برتانوي معمار (**سر ډیویډ چیپرفیلډ**) په انتخاب سره، د دې موزیم د پراختیا لپاره پلانونه پلي شول. د موزیم ودانۍ چې په ۲۰۱۳ کې بشپړه شوه، موزیم ته د ۲۲۴۰۰۰ فوټ مربع څخه ډیر د ګالري ځای او د ځمکې لاندې ګراج اضافه کړ، چې د شخصي ډالیو، بنسټونو د ملاتړ او مالیاتو معافیت له لارې ممکن کړی شو

د دې موزیم ټولګه له لرغوني وختونو څخه تر عصري وختونو پورې له ۳۴۰۰۰ څخه ډیر اثار لري چې په ۹ کټګوریو کې تنظیم شوې دي. د دې ټولګې اثار د اروپایی هنرمندانو لکه ماتیس، ګوګین، مونېټ، پیکاسو او وان ګوګ کارونه څخه تشکیل شوي دي. سربیره پر دې، په یاد موزیم کې د میکس بیکمن د نړۍ تر ټولو لویه ټولګه موجوده ده او همدارنګه د مختلفو کلتورونو څخه غوره اثار لري چې اقیانوسي هنر، امریکایی او ترکي هنرونه یې په ځان کې هم خوندي ساتلي دي

د سینټ لوئس هنري موزیم ډیري لویې مرستې هم ترلاسه کړې دي، پشمول د ۲۰۲۱ کال ډالۍ چې د ایملي راو پلیټزر لخوا وه او پکې د مشهور هنرمندانو لکه پیکاسو، بریک، برانکوشي او ځینې نور اثار شامل دي. معاصر هنر ته د خپلې ژمنې د یوې برخې په توګه، موزیم د بریتانوي هنرمند انډي ګولډزورثي د سڼ ستون په نوم یو ځانګړی اثر هم لري. د هنر دا اثر د ۳۵ ټوټو او د اهک ډبرې څخه جوړ شوی او د تېر تاریخ څخه الهام اخلي ګواکې سمندر کم عمقه و

د سینټ لوئس آرټ موزیم د هنر تنوع او کلتور ستاینې نښه ده چې هر کال په زرګونو لیدونکو ته د هنر د لیدلو وړیا لاسرسی چمتو کوي او د سینټ لویس او ملت کلتوري میراث ته د پام وړ مرسته کوي



# د افغانستان د ملي موزیم نه ماتېدونکې روح


Photo Credit: Babak Fakhamzadeh

د افغانستان ملي موزیم چې په ۱۹۱۹ کال کې د شاه امان الله خان د واکمنۍ په مهال تاسیس شو، د لرغونو اثارو یوه بډایه ټولګه لري چې د هیواد کلتوري میراث منعکسوي. دا موزیم چې په پیل کې د باغ بالا په ماڼۍ کې یې موقعیت درلود، وروسته په ۱۹۳۱ کال کې خپل اوسني ځای ته ولیږدول شو. د کلونو په اوږدو کې، موزیم د ډېرو ننګونو سره مخ شو، په ۱۹۹۰ لسیزې کې د کورنۍ جګړې پر مهال د یرغلګرو له خوا لوټ شو، چې په پایله کې یې ۷۰٪ آثار له لاسه ورکړل

د کورنیو جګړو پر مهال پر دغه موزیم ډېر راکټي بریدونه وشول، ځکه چې د دې ودانۍ څخه د پوځي اډې په توګه کار اخیستل کېده او یاده ودانۍ یې ډېره ویجاړه کړه. په ۱۹۹٦ کې، پاتې کارکوونکو د پاتې اثارو لیست جوړ کړ مګر کله چې طالبانو په ۲۰۰۱ کې د مذهبي دلایلو له مخې د هنر ډېرې اثار ویجاړې کړي وې، د موزیم ټولګه سخته زیانمنه کړه

د موزیم د بیا رغولو هڅې د ۲۰۰۰ لسیزې په لومړیو کې پیل شوې، د یونسکو او انټرپول په مرسته تر ۸۰۰۰ ډېر اثار بیرته راوګرځول شول، چې ځینې یې په کابل کې او نور یې په بهر په سویس کې راټول شوي و. د ۲۰۰۳ او ۲۰۰٦ کال ترمنځ د پام وړ بودیجه د دې ودانۍ د بیا رغولو لپاره اختصاص شوه او ډېرې قیمتي اثار یې بیرته ترلاسه کړل. له ننګونو سره سره موزیم د افغانستان د کلتوري میراثونو د ساتنې لپاره خپل ماموریت ته دوام ورکړی دی. په ۲۰۱۳ کال کې، د شیکاګو پوهنتون د ګرځنده موزیم پروژې له لارې له یاد موزیم سره ډېره همکاري کړې ده، چې د کلتوري پوهاوي او زده کړې د ودې په موخه یې د ټول افغانستان ښوونځیو ته د هنري اثارو درې اړخیزه انځورونه چاپ او افغانستان ته یې ورکړل

په وروستیو کلونو کې، د موزیم مدیرانو، هریو محمد فهیم رحیمي او محمد زبیر عابدي په ګډون، د دې ټولګې د ساتنې لپاره نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړي دي، په ځانګړي توګه د هغو اندیښنو په پام کې نیولو سره چې په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو له برید او د کابل له سقوط وروسته موجودې وې

د دې موزیم ټولګه خورا متنوع ده، چې په کې د کوشان امپراطورۍ د دورې او د اسلام د لومړیو وختونو څخه کتیبه، د کنیشکا پاچا رباطک مشهوره اثار او د افغانستان د تاریخ د مختلفو دورونو نورې لرغوني خزانې شاملې دي. په عین حال کې، موږ لا هم کولی شو د دیوال نقاشۍ، لیکونه، مجسمې، سکې او فلزي اثار چې د کیندنو په هلو ځلو ترلاسه شوي یادونه وکړو. یاد موزیم شاوخوا ۳۰۰۰۰ د سکو ټولګه لري چې د تاریخ پېژندنې اصلي موضوع ده، که څه هم دا ځانګه د خلکو او څېړونکو لپاره تړل شوې خو دا د یاد موزیم ارزښت ته وراضافه کوي

د دې ټولګې مهمې برخې لکه د بګرام اثار، آی خانم، فولول تپه او تلیا تپه چې د سرو زرو ګاڼې دي له ۲۰۰٦ کال راهیسې په ګرځنده نندارتونونو کې نندارې ته ایښودل شوي دي. د یادونې وړ ده، چې دغه اثار د سفرونو پر مهال د نړۍ په بېلابېلو موزیمونو کې نندارې ته وړاندې شوي او په پام کې ده، چې بالاخره یې د افغانستان په ملي موزیم کې نندارې ته کېږدي

د افغانستان ملي موزیم د خپل کړکېچن تاریخ سره سره لا هم د هیواد د بډایه کلتوري میراثونو د ساتنې او نندارې ارزښتناکه خزانه ده ترڅو راتلونکې نسلونه ترې خوند واخلي او د ېرڅه تر ېنه زده کړي. د افغانستان ملي موزیم د افغان ولس د استقامت او هوډ یوه نښه ده چې د خپل تاریخ او هویت په ساتلو کې یې د ستونزو سره لاس او پنجه نرمه کړې او تل د یوه ویاړلي تاریخ په څېر په خپل ځای ولاړ دی


Photo Credit: Jawad Jalali/AFP via Getty Images

## په سینټ لوئس کې د افغانستان د خوړو خوند




کله چې د سینټ لویس څخه لیدنه کوئ، داسې یو ځای شتون لري چې تاسو ته ډاډه درکوي تر څو د وطن اصلي خواړه پکې پیدا کړئ. صمیم افغان رستورانټ ستاسو لپاره د رستورانت دننه خواړه چمتو کوي او ستاسو سپارښتنې هم مني او تاسو ته ډاډ درکوي چې ستاسو د خواړو تجربه به تر ټولو غوره وي. په یاد ولرئ چې سږکال د ملتونو په کلني جشن کې د صمیم افغان له غرفې څخه لیدنه وکړئ

د صمیم رستورانټ مالک صمیم وايي: هغه ګډونوال چې فیستیوال ته راځي په طبیعي ډول لیواله دي چې نړیوال خواړه وخوري ځکه دوی د نړیوالو خوړو سره مینه لري. فهیمه محمد وايي: ډېری هغه کسان چې رستورانټ ته راځي د دې میلې پوښتنه کوي او په یاده مېله کې همدغه خواړه غواړي




هر کال، د ملتونو فستیوال په ټاور ګروف پارک کې د دوو ورځو لپاره دایرېږي او زرګونه ګډون کوونکي راجلبوي چې ګډون کوونکي د موسیقۍ، خواړو، نڅا، کلتوري تبادلې لپاره په دې مېله کې ګډون کوي. ګډون کوونکي هر کال راځي تر څو له دې مېلې څخه نوې تجربې واخلي. په یاده مېله کې د کورنیو ګډون اصلي یادونه رامینځته کوي، د دوی ملګرتیا له نورو سره ټینګوي او نوې اړیکې جوړوي. په یاده مېله کې د کلتوري صنایعو او خواړو لپاره ځانګړي ځایونه په نښه شوي وي چې د دې کار په کولو سره سوداګرانو ته کاري فرصتونه برابرېږي

محمد وايي، د سوداګرۍ خاوندان معمولا یو فرصت لري چې له یو بل سره یوځای شي او زده کړي چې څوک څه وړاندې کوي او څوک سږکال څه پلوري. د اونۍ په جریان کې، موږ معمولا یا نظرونه تبادله کوو یا د سوداګرۍ کارتونه تبادله کوو، چې دا کار موږ ته د لا ډېرو اعلاناتو لامل کېږي. موږ ټول د یو بل ملاتړي یو

د ډېرو لپاره، د ملتونو فستیوال د یوه کوچني کاروبار د پېلولو زمینه برابروي او بیا ځینو ته د خلکو په مینځ کې د محبوبېدلو زمینه برابروي. د ملتونو فستیوال زموږ محبوبیت په چټکۍ سره د ښار له حدودو څخه بهر خلکو ته په رسولو کې مرسته کوي چې دا کار د ټولنیزو رسنیو له لارې زموږ لپاره ممکن نه دی

تاسو هم سږکال کولای شئ د شنبې په ورځ د اګست په ۲۶ او یکشنبه، د اګست په ۲۷ په دې فیستیوال کې ګډون وکړئ



## د خوړو د لېتون سازمان سینټ لوئس لپاره د خوړو خوندي سرچینې برابروي

د خوړو د لټون سازمان په سینټ لوئس کې یو غیر انتفاعي سازمان دی چې په سینټ لویس کې د لوږې ختمولو لپاره وقف شوی دی. دا اداره هر کال په ۳۳۰ ادارو او ټولنیزو همکارانو د څه باندې ۳ میلیونو ډالرو په ارزښت خوراکي او د کورنیو د اړتیا وړ توکي وېشي، چې هر یو یې په بدل کې هره میاشت ۳۰۰ زره اړمنو کسانو ته خواړه ورکوي، چې نږدې دریمه برخه یې ماشومان دي. یو له دغو استازو څخه د سینټ لوئس نړیوال انسټیټیوټ دی



په پرله پسې توګه د پنځم کال لپاره، د خوړو د لټون سازمان د دوشنبې څخه تر پنجشنبې پورې ځوانانو ته د ځوانانو په پروګرامونو او له ښوونځي وروسته پروګرامونو کې وړیا خواړه ورکوي. سربېره پردې، تر اوسه پورې سږ کال دوبي کې، اوه شپېته ځله د ټولنې بازار له لارې په هرو دوه اونیو کې خواړه او د کورنیو د اړتیا توکي ویشل شوي. د خوړو لټون سازمان پیرودونکو ته د ګرځنده پلورنځي اسانتیا برابره کړې ده ترڅو تازه او ارزانه محصولات ارائه او ټول خواړو ته مناسبه لاسرسی ولري

کیترین شوبرل د ځوانانو د پروګرام همغږي کوونکې وايي: د ۲۰۱۸ کال راهیسې، د خوړو لټون سازمان زموږ د ځوانانو د پروګرام لپاره یو ښه ملګری دی، موږ د خوړو لټون په سازمان باور لرو او زموږ ځوان پیرودونکي باید پخپلې انګلیسي ژبې او په ښوونځي کې د ښو نمرو په ترلاسه کولو تمرکز وکړي

شوبرل وايي: په سینټ لوئس کې زموږ د کډوالو او ځوانانو په ټولنه کې د بریالي ادغام لپاره د خوړو خوندیتوب اړین دی. موږ د خوړو لټون سازمان د همکارۍ څخه مننه کوو او په دې مني او بل کال د دې پروګرام دوام ته سترګې په لاریو. هغه زدکوونکي او کډوال چې د سینټ لوئس عامه ښوونځیو کې دي او په دې پروګرام کې شامل شوي دي، د خوړو لټون سازمان څخه به وړیا خواړه، د انګلیسي ژبې تمرین او د اکادمیک او ټولنیزو مهارتونو کورسونه ترلاسه کړي، چې یاد مهارتونه د زده کوونکو لپاره خورا اړین دي

# په رویال کباب رستورانت کې د افغاني خواړو څخه خوند واخلئ




د رویال کباب رستورانت د خوړو خوندونه تاسو په مستقیم ډول د افغانستان خوندور خواړه درپیادوي. مهدي حیدري، د پخلي سره د ریښتینې مینې او د کیفیت ثابتې تجربې سره، تاسو ته بلنه درکوي چې د هیواد اصلي خواړه وخورئ

د مهدي حیدري د بریا تر شا کیسه ددې مقاومت او د ژوند قدرداني ده. د محدودو منابعو او ملاتړ سره امریکا ته له رسیدو وروسته، هغه د سینټ لویس نړیوال انسټیټیوټ څخه مرسته وغوښته، او یاد انسټیټیوټ له ده او کورنۍ سره یې په سینټ لوئس مرسته وکړه. اوس، مهدي پخپل رستورانت کې په خورا مینه افغانانو او نورو ته خواړه چمتو کوي

په رویال کباب کې، نوي مشتریانو ته ځانګړی ښه راغلاست ویل کیږي. تاسو ته به په لومړی لیدنه کې په کور جوړه شوې خوندوره بغلاوه او یا خوندور جلیبی درکړل شي. دا په زړه پورې میلمه پالنه د پېرېدونکو لپاره یوه نه هېریدونکې تجربه رامینځته کوي او دوی به وهڅوي ترڅو بیا دې رستورانت ته ورشي

رویال کباب په ۳۶۱۱ بیټس روډ کې موقعیت لري او د ځایی خلکو او لیدونکو لپاره په اسانی سره د لاسرسي وړ دی. دې رستورانت ته د ننوتلو سره به تاسو په توده میلمه پالنه چې د افغان کلتور ځانګړتیا ده ښه راغلاست وویل شي. که تاسو خواړه وخورئ یا خواړه آنلاین سفارش کړئ، د رستورانت د پرسونل دوستانه برخورد او تجربه لرونکی ټیم به تاسو ته ډاډ درکړي چې ستاسو د تجربه بې ساري ده

د مهدي له خوبونو څخه یو دا دی چې په راتلونکي کې خپل خدمات پراخ کړي او په دې ښار کې نوې ځانګې پرانیزي او دا خوندور خواړه ټولو ته وړاندې کړي

په رویال کباب کې، هر رنګ خواړه د افغانستان د زړه او روح استازیتوب کوي. د افغاني خواړو خوند او ګرمه میلمه پالنه په شاهي کباب کې د افغاني کلتور استازیتوب کوي

د رستورانت پته

3611 Bates StSt. Louis, MO 63116

# د افغاني ټولنې د متشبثینو د مرستې سیالۍ دریم پړاو

## د افغان متشبثینو پیاوړتیا

په داسې نړۍ کې چې موږ په دوامداره توګه د ستونزو او ننګونو سره لاس او ګریوان یو، دا ډېرې وختونه د متشبثینو مقاومتې روحیه ده چې د پرمختګ او سوکالۍ لپاره لاره هواروي. د افغان ملاتړ پروګرام، دا امید او مرستې څراغ اوس هغو افغان کډوالو ته چې په متحده ایالاتو کې د خپل سوداګرۍ د رامینځته کولو یا پراخولو خوبویني، مرستې وړاندې کوي. د دې پروګرام موخه نه یوازې د انفرادي متشبثینو پیاوړتیا ده، بلکې د سینټ لوئس په ښار کې د کډوالو لپاره د کار فرصتونو په رامینځته کولو سره د ټولنې پرمختګ ته وده ورکول هم دي


خپله وړتیا وازمویئ: همدا اوس خپله غوښتنه وسپارئ

د افغان ملاتړ پروګرام وړ نوماندانو ته بلنه ورکوي چې د ۱۵۰۰۰ ډالرو مرستې لپاره غوښتنلیک ورکولو سره خپل د سوداګرۍ وړتیا وازمويي. د دې مرستې موخه د هغو افغانانو لپاره مالي ملاتړ برابرول دي چې غواړي په خپلو ټولنو کې سوداګري جوړه اویا پراختیا ومومي. که تاسو د سوداګرۍ پیل کولو نظرلرئ یا دیې پراخولو په لټه کې یاست، دا برنامه ستاسو د خوبونو او هیلو د غوړولو لپاره چمتو ده

که تاسو دا معیارونه پوره کوئ او د سوداګرۍ خوب لرئ چې د ریښتیني کېدو وړ دي نو وخت مه ضایع کوئ. د غوښتنلیک سپارلو وروستۍ نیټه د اګست ۳۱/۲۰۲۳ ده. موږ په ځانګړې توګه میرمنې هڅوو چې له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي او غوښتنه وکړي، ځکه چې دا پروګرام د جنسیتي مساوات هڅوي

### د دې پروګرام د بریالیتوب دوه روښانه مثالونه





د افغان ملاتړ پروګرام لا د مخه د خپلو پخوانیو ګټه اخیستونکو څخه د بریالیتوب کیسې لیدلي چې په ټولنه کې یې هیله او هوډ الهام کړی دی. دوه نامتو ګټونکي هر یو حمدالله همدرد او محمد رضا حسني د دغو مرستو ریښتیني وړتیا په ډاګه کړې ده

دا ولڅن پیکچرز پروډکشن بنسټ ایښودونکی حمدالله همدرد دا مرستې د ویډیو د تولید په نړۍ کې کارولې. له بلې خوا، محمد رضا حسني، د موټر ورکشاپ مالک دی او دا مرسته یې د موټرو د ترمیم لپاره کارولې، چې ځايي ټولنې ته لوړ خدمتونه وړاندې کوي

### د ګډون لپاره شرایط

کډوال، ګرین کارت لرونکي یا هغه افغانان چې متحده ایالاتو ته په پیرول سره داخل شوي

تاسو د ۲۰۲۱ کال له اګست میاشتې وروسته امریکا ته راغلي یاست

تاسو پلان لرئ چې یا نوې سوداګري پیل کړئ یا موجوده سوداګرۍ پراخه کړئ

سوداګري باید د سینټ لوئس په ښار یا کاونټي کې موقعیت ولري

الزامات او د غوښتنلیک پروسه

د سوداګرۍ جواز، د سوداګرۍ اداري راجستریشن، او د ګمارونکي پیژندنې (EIN) شمیره

د سوداګرۍ جامع پلان، د مالي بیان په ګډون

د سوداګرۍ عمومي بودیجه

د سوداګرۍ ودې او بریا لپاره د مرستې کارولو څرنګوالي بشپړه نقشه




SCAN QR CODE

THE AFGHAN JOURNAL

افغان ژورنال په خوښۍ سره اعلان کوي چې موږ اوس په دې میاشتنۍ
مجله کې د تکړه محلي لیکوالانو مطالب خپروو. خپلې په زړه پورې
کیسې له موږ سره شریکې کړئ او خپل غږ مو ترنورو ورسوئ. موږ ته
خپل مقالې همدا نن واستوئ


3611 South Grand, Suite 105, St. Louis, Missouri

+1 (314) 827 1821

Hhamdard@afghancenter.org

Www.afghancenter.org